مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پروفیسور ع. رشید دنهروپوهنتون استاد
۲۰۲۰/۰۷/۱۹

# چا چي ديورند لاسليک کړی او

## چا چي د اغزن تار معامله وکړه،

### دواړې له ملته پټي معاملې دي!



دافغانستان دتاريخ په پاڼوکې زموږ له لويوغميزوڅخه يوه هم دديورند بدنامه اونامنلي کرښه ده، هغه بدمرغه کرښه چې زموږ پرملت باندې په داسې حال کې چې ديوه خپلواک وطن دتاريخ ، تاريخي جغرافيه اواسنادمو په لاس کې درلودل او اوس يې هم لرو، پرموږ وتپل شوه ، موږ يې په دووبرخوهغه هم ديوه ځانګړی تاريخي رقابت چې د ښکيلاکي روسيې او ښکيلاکی بريتانيا ترمنځ د دوی دګټوپه خاطروويشل شوو، يوه برخه آزاده اوبله د انګريزي استعماراوله هغه وروسته داستعمارد ناروا پاټي شونو په لاس کې تراوسه پورې دغلامی شپې ورځې تيروي، دايوتاريخي واقعيت دی چې اټک زموږ طبعی پوله ده، دا پوله هم هغه پوله ده چې د فارس ياغي واکمن نادرقلی ترکمن اواحمدشاه ابدالي له زمانو د افغانستان او ايران (خراسان) پوله بلل شوې ده.په دغه اړه دتاريخی اسنادويوه پاڼه ياتړون (عهدنامه ) چې په ۱۰۵۲ ق او ۱۷۵۸ م کال پورې اړه لري اوهغه دهند اوافغانستان دتاريخي پولې په اړه څرګندوضاحت راکوي دلته زه له خپل اثر (دديورند کرښه ، يوه انګريزی غيرانساني هڅه ) څخه له تاسوګرانودوستانو سره شريکوم :

نقل عهد نامه

«اينست،که حسب الاستدعای امنای شاهی کارپردازان سلطنت مجد شاهی بتحريرش پرداخته ،وچون آراستگی يافت،حوالت کارکارگذاران صاحب مملکت ايران ساختند » : قبل ازين که بندگان عالی حضرت کيوان منزلت ، بهرام صولت ، مريخ سطوت ، شاهنشاه جهان سلطان سلاطين دوران ، پادشاه ظل الله اسلام پناه ، خاقان سکندرآستان ،


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

آسمان بارگاه، السلطان المکرم والخاقان الاعظم نادرشاه خلدالله ملکه، ایلچیان بجهت بعضی امور، روانه ای حضور این نیازمند درگاه الهی فرموده بودند، واین نیازمند متعهد اتمام آن مطلب گشته، بعداز آنکه محمدخان ترکمان ازقندهار برای یاد آوری وارد گردید، امنا وکارگذاران این دولت درتسویف وتوقیف وتعطیل جواب نامه اعلی حضرت برآمده محرک ماده مخالفت گردیدند. تا آنکه ورود موکب همایون عالی حضرت بحدود هندوستان اتفاق افتاده، درقصبه ای کرنال بمقتضای قضا تلاقی فریقین وجنگ سلطانی واقع شد ونیرجلی الظهور فتح وظفر ازمشرق آن دولت بی زوال طالع گردید .

چون عالیحضرت پاد شاه جمشید جاه آن بزرگ ایل ترکمان وسرچشمه ای مردمی واحسان مروت نمودند بصوب (کذا) ایشان مستظهر، وازفیض ملاقات ومجالست بزم وازم رشک همایون، بهره ورگشته، باتفاق وارد دارالخلافه شاه جهان آباد رسدیم وتمامی خزاین وجواهر ونفایس وکنوز وذخایرسلطنت هندوستان، برسم نیازبموجب تفصیل علیحده ، متعلق بآن سرکارساخته، آنحضرت برحسب الاستدعا این نیازمند درگاه الهی بعضی را بخط قبول موصول نموده ازعالم اهلیت واتحاد که مراعات سلسله علیه کورگانیه ومراقبت دوحه ترکمانیه، مطمح نظر قدس منظر ایشان می باشد، تاج ونگین سلطنت هندوستان را باین نیازمند درگاه اله مفوض وموکل فرمودند. چون این نوع عطیه عنایت که از پدر درباره فرزند واز برادر نسبت به برادرنمی آید، آزان شاهنشاه بلند جاه، نسبت باین نیازمند درگاه اله بوقوع پیوست، لهذا دربرابر این معنی تمامی ممالک سمت غربی رود اتک دریای سنده ونالہ سنگره منشعب از دریای سنده که عبارت از پشاوروبنگشات و دارالملک کابل وغزنین وکوهستان ومساکن افغان وهزاره جات و قلعه بهکروسنگهر وخدا آباد و لارکان ودیره جات ومساکن چوکیه وبلوچیه وغیرهم وصوبه تهته وقلعه راهمه و قصبه بدین وپرگنه جون وپرگنه سموال وکهبران (کذا) وسایر پرگنات وبنادر از ابتدای منابع رود خانه اتک وبکرناجنگ (کذا) دژها واماکن که آب مذکورمشعب تهته را گرفته باشد، تا حد یکه دریای سنده ونالہ سنده ونالہ ساگربدریای محیط اتصال می یابد،وآنچه بهرجهت ازجهات ازمزارعان دریای اتک وشعبه های آن ورسمت غربی دریای سند ونالہ سنگره واقع شده باشد، مخصوص آن دولت نادره وضمیمه ممالک محروسه سلطنت قاهره نمودیم ، که من بعد گما شتگان آن دولت خداداد وبندگان آن آستان سپهر بنیاد ، مناشیرضبط وربط مما لک وپرگنات مذکوره وحل وعقد مهمات جزیه وکلیه اهالی وسکنه و رعایاوبرایا پای آنجا بوده باشد .

امنای این دولت ابدقرین، مما لک مسطور را ازولایت متعلقه باین نیازمند درگاه موضوع نموده ، قلم امرونهی را بالکلیه راز آنها مرقوع داشته، بهیچ وجه ، دخل در پرگنات مزبور وسکنه و رعایای اینها نه نمایند و داور قلعه وشهرلوهری بندر و اوچ وسایر ولایت که جانب شرقی رود اتک و دریای سنده ونالہ سنگره واقع شده باشد، متعلق به مملکت هندوستان خواهد بو. » ]مورخه ۴ محرم ۱۱۵۲ [

(انندرام مخلص ، بدایع وقایع طبع لاهور صص ۱۰۶ الی ۱۰۸ )



د دراني امپراتورۍ د قلمرو نقشه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

دا هغه پوله وه چې د لوی احمدشاه بابا په دوره اوترهغه راوروسته آن تر ۱۸۲۳ م کال پورې چې کشمیردلومړي ځل له پاره د دراني امپراتورۍ له اولکي ووت، پرهمدغه حدود باندې ترهغوچې انګریزی واکمنی دګندمک اودیورند توطيي ترلاس لاندې ونيوې پاتې شول، داچې استعمارڅه وکړل، اوبايي هم ناروا ځای ناستي اوس څه کوي په دغه اړه باید دهغوتوطيو دلړۍ په اړه هم يوڅه ووايوچې په نوي چل اونوي نيرنګ سره، يې زموږ په مخ کې پرهغه کرښه چې يوازې دکاغذ پرمخ ديوه ناروغ اومعتاد اميرله اوداستعماري ځواک ديوه عادی چاړواکي له خوا لاسليک شوه، چې هيڅا هم ونه منله اونه به يې ومني ، خو له بده مرغه چې افغانستان په تيرو دوو لسيزو کې دامريکايي يرغلګرځواک په منګولو کې ولويد، دوی نه يوازې داچې زموږ تاريخي ارزښتونه اوويارونو ته درناوی ونه کړبرعکس دهغو دتحريف اومسخ کولوپه ترڅ کې يې له شرمه ډکه غيرانسانی دنده ترسره کړه، امريکا دخپل يرغل په ترڅ کې دافغانانواوپښتنوله ملي داعيي څخه نه يوازې يادونه ونه کړه بلکه پاکستان يې نورهم وهڅاوه چې ځودافغانستان په چارو کې له وسله والي مداخلې نيولې بياتراقتصادی ګټو پورې دلاسوهني لوی لاس ولري، دغه حالت ته هغه مهال د بري ښه چانس رامنځ ته شوچې افغانستان،ديرغلګرو نړيوالوپوځونو په يوې پراخې اډې باندې واوښت... ددغويرغلګرو پوځونود ملاتړاوحمايې لوژستکي اړخ بياهم په پاکستان پورې تړلی و، امريکا ظاهرآ ځان په افغانستان کې ښود، هګۍ يې دلته اچولې وې، خو کوټ کوټ يې



امريکايي ديپلومات دافغانی بيرغ ترڅنګ په بې شرمی سره وايي ديورند په رسميت پيژنو!

بياهم له پاکستان او آی اس آي سره و، هغه چې په سيمه کې د سي آی آی استخباراتی متحد و اولاهم دی. کرزي ډيره هڅه وکړه چې امريکا په داسې حال کې چې ځان يې په افغانستان کې خيرکړی، بايد پاکستان په سياسي او پوځي لحاظ له يوې خواپه نړيواله کچه د سياسی انزواکندې ته ورټيل وهي اوله بلې خوابايد دديورند کرښې تاريخی مسالې ته ديوه عينی او انسانی اصل په توګه دحل لاره ولټوي... په دغه ترڅ کې اسناد ښيي چې امريکايي چارواکوبه دغه خبرې يوازې اوريدې اوبس... امريکا چې کومې پيسې په افغانستان د قراردادیانو، خارجی اوداخلي سازمانو اودولتی دلالانو له لارې خرڅولې، دهغو دريمه برخه يې پاکستان ته ديورند دکرښې په شاوخوا کې د پاکستانی پوځ د پياوړتيا له پاره ورکولې... اوپايله يې داشوه چې اوس په افغانستان کې له سياستوالورانيولې بيا ترعادی خلکو پورې نه پوهيږي چې دامريکا په شته والي سره،د شرمونکي امنيتی تړون له لاسليک سره سره، افغانستان دهرې ورځې په تيريدوسره ديورند کرښه پريږده ان چې دحپلې خاورې دتماميت له خطرسره مخامخ کيږي اوداسې ښکاري چې پاکستان دې ته تياری نيسي چې افغانستان دخپل سياسي اوپوځي نفوذ په کړۍ کې داسې راګيرکړي چې په سيمه اونړيوال ډګر کې ديوه لاس کتوی دولت اوحکومت له کچې زيات څه ونه شي کړای... له پاکستان سره داشرف غني داغزن تاردغزولو معامله اوس اوس خلکوته لکه دعبدالرحمان خان د ديورند دکرښې معامله له مياشتو اوکال وروسته روښانه کيږي چې د اشرف غنی په ناکاره، لاسپوڅې او بې کفايته دوره کې دده دمعاملې په توګه ترسره


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

شوې ده، اوس ملت وضاحت غواړي چې : **هغه کربښه چې يوازې دکاغذ پرمخ باندې ښکاريده اود نژدې يوې پيړي په ترڅ کې د نه منښت مبارزې اوقرباني پرې کيدي اوپه لراوبرکې د ملي مقاومت بنه غوره کړې وه،اوس څنګه په اغزن تاربانديې په عملي توګه په نښه شوه ؟ اشرف غني بايد دخلکودغې تاريخي پوښتنې ته ځواب ووايې.؟؟؟؟؟؟؟؟؟؟!**





افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ